# د(ب) برخه: دنبات ټوکیدنه، وده او نمو

## دوهم لوست:د نبات د ژوند دوره پیژندنه

(Plant Life Cycle)

# اصطلاحات

- Annualsکالنی یا یوه فصله نباتات
- Biennials دوه کلن نباتات
- Deciduous پانه توییدونکی نباتات ( د مني په موسم کي)
- Evergreen تل زرغونه یا تل شنه نباتات
- Herbaceousوښنيئ (علفي) څوکلن نبات
- Life Cycle د ژوند دوره
- Perennials څوکلن نباتات
- موسمی (کلنی) نبات (ژمی)
- موسمی (کلنی) نبات (اوړی)
- لرګني څو کلن نباتات

# د نبات دژوند دوره څنګه تعریف کیدلاي شی؟



## نباتات د هغوي د ژوند د دورو پر اساس باندي ویشل او ګروپ بندي کيږي.

This image cannot currently be displayed.

– د ژوند دوره هغه وخت او زمان ته ویل کیږی چی د تخم له ټوکیدنی څخه پیل او تر هغه ادامه کوی تر څو د چاپیریال سره موافق (وړ) تخم تولید کړی.

– کوم نباتات چی زمونږ په شاوخوا کی موجود دی د ژوند دری مهمی دوری لری: کلنی، دو کلني او څو کلني



# د نبات کلنی یا موسمی د ژوند دوره څه شی ده؟

- هغه نباتات چې دژوند دوره یعنی تخم ټوکیدنه، وده او نمو په یوه کال کې پوره کوی **د کلنی یا موسمی نباتاتو** په نوم سره یادیږی.
  - یو عادی موسمی یا کلنۍ نبات د ټوکیدنی له پروسی (اوښتون)څخه وروسته ۱۲۰ ورځو ته اړتیا لری تر څو تخم تولید کړی د ټوکیدنی پروسه تقریباً ۵ ورځی نیسی کله چې تخمیانه(نطفه) مینځ ته راځی نو نبات ګیاهی(علفي) پړاو ته ننوځی. ګیاهی (واښه ډوله) پړاو چې د پاڼی د ودی او د فتوسنتیز له لاری د خوړو تر تولیده پوری شامله ده، کیدای شی دغه دوره تر ۴۵ ورځو پوری دوام پیدا کړی . وروسته له هغه نبات یو داسی پړاو ته داخلیږی چې په هغه کې د غوټۍ وده او نمو پیل کیږی. دغه پړاو تر ۲۱ ورځو دوام کوی. ګلان تر ۱۴ ورځو راښکاری او وده کوی، ګرده شیندنه(افشانی) او القاح په ۳ ورځو کې ترسره کیږی. په ورستنیو ۳۰ ورځنی پړاو کې تخمونه او میوی پخیدو ته رسیږی.

# دنبات د ژوند عادي دوره




١ ګیاهي وده ٤٥ ورځې

٢ ټوکاریدل ٥ ورځې

٣ نیجې وهنه ٢ ورځې

٤ بزر شوي تخم

٥ دمیوې پخیدل ٣٠

٦ ورځې

٧ د ژوند دوره ١٢٠ ورځې له نیجې وهنې تر پخوالي

٨ دپاڼې وده

٩ دګل پیل

١٠ دتخم جوړیدل او القاح ٣ ورځې

١١ د ګل د ګرده شیندن پیل

١٢ دګل شکاریدل

١٣ ورځې ٢١

١٤ د بیا زیږدوني پړاو

  

ب) یو ډول کلنی یا موسمی نباتات عبارت له **<u>اوړنی کلنی نباتاتو</u>** څخه
دی لکه جوار، پنبه، رومی، سابه او داسی نور، په پسرلی کی
ټوکیدنه او نیبش و هنه کوی، د پسرلی او اوړی په موسم کی پخوالی
ته رسیږی تخم تولیدوی او له مینځه ځی. د اوړی د موسم نباتات په
عمومی توګه دتودوخی له سړی درجی سره حساس وی.

ت) یو بل ډول موسمی نباتات **<u>د ژمنی کلنی نباتا تو</u>** په نوم سره یادیږی
چی دغه نباتات په منی کی نیبش وهی د ګل راټوله (غونجه نغاړلي)
ګیډیَ جوړوی، په ژمی کی دبیده توب یا رکود حالت غوره کوی او
په پسرلی کی دوهم ځل په وده او نمو باندی پیل کوی. دغه ډول
نباتات په پسرلی کی تخم تولیدوی. غنم او نخود په افغانستان کی له
ژمنی عادی نباتاتو څخه شمیرل کیږی.

# د كلني يا موسمي نبات د ژوند دوره



# د نبات د ژوند دوه کلنه دوره څه شی ده؟

- دوه کلن نباتات هغو نباتاتو ته ویل کیږی چی د ژوند د دوری د پوره کیدو لپاره دوه کلنو ته اړتیا لری.

په عادی توګه د دوه کلنو نباتاتو زڼي یا تخمونه په پسرلی کی کرل (بذر) کیږی. په لومړی کال کی د نبات پاڼه، ډډ او ریښی زرغونیږی ( نباتی جوړښتونه مینځ ته راځي ) بیا وروسته نبات په سړو میاشتو کی د بیده توب یا رکود پړاو ته داخلیږی . نبات ژمی تیروی او په دوهم پسرلی یا اوړی کی د دوه کلن نبات ریښه ډیره زیاته اوږدیږی. بیا وروسته نبات غوټۍ کوی او مخکی له دی چی له مینځه ولاړ شی میوه او تخم تولیدوی.ګازره او چغندر د دوه کلن نباتاتو دوه بیلګی دی.




# ددوه کلن نبات د ژوند دوره



# دڅو کلن نبات د ژوند دوره څه شی ده؟

- <u>څوکلن نباتات</u> د نباتاتو له هغه ګروپ څخه عبارت دی چی د ژوند دوره یی له دوو کلونو څخه ډیر وخت نیسی.
  - وابنه ډوله(علفی) څو کلن نباتات د تازه جلا شویو څانګو لرونکی وی چی په هرمنی په موسم کی پر ځمکه له مینځه ځی. د ډډ سستم یی په ژمی کی ژوندی پاتی کیږی او د نویو ښاخونو (څانګو) او نیښونود ودی او لپاره د پسرلی په موسم کی انرژی ورکوی . ځمکنی توت،پیاز،مارچوبه(یو ډول سابه) او کنګر فرنګی؟ د وابښنیو (علفی) څو کلنو نباتاتو له بیلګو څخه دی.

- **ځو کلن لرګنی نباتات** ځوکی لرونکی دی د ژمی په موسم کی ژوندی پاتی کیږی . د پسرلی په موسم کی نیښ او څانګه له پټو نیښونو څخه په ودی باندی پیل کوی. ونی او د ګلانو بوټی له لرګنی نباتاتو څخه شمیرل کیږی.
- ونې او د ګلانو بوټې چی د منی په موسم کی خپلی پاڼی تویوی(ریژوی) د **پاڼه ریژونکو نباتاتو** یا (Deciduous) په نامه سره یادیږی.
- هغه نباتات چی پاڼې یی د کال په ټوله برخه کی باقی پاتی کیږی د **تل زرغونه نباتاتو** یا ( Evergreen Plants) په نامه سره یادږی. تل زرغونه نباتات هر کال یو شمیر پاڼې له لاسه ورکوی د تل زرغونه نبات پاڼی مخکی له تویدو(ریژیدو) له یو کال نه تر ۳ کاله پوری باقی پاتی کیږی.



# دځو كلن نبات د ژوند دوره



# بیاکتنه او لنډیز

1. 
2. د نباتاتو د ژوند دوره څنګه تعریفیږی؟
3. د کلنی یا موسمی نبات د ژوند دوره څنګه او څه شی ده؟
4. د نبات د ژوند دوه کلنه دوره څه شی ده؟
5. د نبات د ژوند څو کلنه دوره څه شی ده؟